پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل»

# پاکستان دخپل تجزیه کیدو دمخنیوی په وجهه
# نه غواړی چي په افغانستان کی یوملی باثبات
# دولت مینځ ته راشي

*سریزه : گرانو لوستونکو ددی دپاره چي د پورتنی عنوان په نطر کی نیولو سره خپل ادعا ثابته کړو ،ځان مجبور گنو چی دیو شمیر مستند اسنادو اورفرنسونو په استناد سره پر لاندی موضوعاتو باندی یو څه تم شو اوهر یوه اړین موضوع په علمی اوتحلیلی سلوک سره وڅیړو بی له دی چی خپل باور او یا نظرته لمریتوب ورکړو او مستند اسناد دڅپل لړلید اویا دخپل خودغرضی په روش سره په نا سم ډول انعکاس ورکړو ، نو په دی بنیاد سره زه هڅه کوم چی مخکی له هر څه نه د پاکستان اړینو موضوعاتو ته نظر واچوم :*

*۱ - دپاکستان پر تاریخی – سیاسی – اقتصادی –اجتماعی اوفرهنگی وضع باندی یو څه تم کیدل .*

*۲ - ددیورند دتحمیلی کرښی ددواړو خوا دخلکو اوبیا په ځانگړی بڼی سره دروشنفکرانو دریځ*

*۳ – په ا فغنستان کی دپاکستان ښکاره لاس وهنه –اودهغه هیواد غوښتنه.*

*۴ - په افغانستان کی دنهادونو – موسساتو ـ احزابو اود ملیتونو ددریځو پر تفاوتونو اودافغانستان دغلیمانو پر ستراتیژیکی اهدافو باندی تمیدل .*

*۵- پایلی اوڅه باید وکړو ؟*

## ۱- پاکستان:

الف: *دپاکستان تاریخی پس منظر او تشکل* : د دی د پا ره چی د پاکستا ن پر تشکل باندی رڼا واچوو لازم بریښی چی دهند دنیمی وچی پرتاریخی پس منظر او حالاتو باندی یوڅه تم شو:

A ـ **دهند نیم وچه او دانگلیس استعما ر**: د هند د نیمی وچی په تجزیه کی څنی داخلی اوخارجی عوامل لوی نقش درلود ،اما استعمار او بیا په ځانگړی بڼه دانگلیس استعمار یواځنی هغه خارجی عامل وه چی دهند په تجزیه کی ستر رول اونقش ولوبول. د استعمار کلمه یا لغت په واقیعت کی دآبادی په مفهوم تعریف کیدل اما له هغه ځایه چی استعمارگران دآبادی دکلمی په مفهوم سره خپل لار نورو هیوادوته پرانیستل اودآبادی په عوض دهغه هیوادونو شتمنی اومنابع یی له یو سره سره لوټ اوتاراج کړ دغه دآبادی

کلمه یا داستعمار کلیمه ځا نته منفی مفهوم تر لاسه کړ . استعما ر خپل د ودی په دوره کی په دری شکل سره ځا ن ښکاره کړ : الف : کلاسیک استعما ر یعنی داستعمارګر هیواد نظامی قوتونه په مستقیم بنی سره پر بل هیواد باندی هجوم وړل .ب: نوی استعمار یعنی غیر مستقیم استعما ر دسیاسی – اقتصادی اوفرهنګی ا بعا دو سره .ج- له سره اغوښتونکی «بازګشت » استعما ر چی د نظا می اود تکنالوژیکی مخکی تللی وسایلو پکاروړلوسره خپل واکمنی او تسلط په یوه هیواد کی ترلاسه کوی لکه دامریکی دمتحده ایالاتو تجاوز په مینځنی ختیځ او وروسته له هغه پر افغانستا ن او عراق با ندی تجاوز ددریم ډول له استعمار څخه عبارت دي .

په هرصورت دلمړی نړیوال جګړی څخه وروسته دهند په نیمه وچه کی همزمان دری مختلف جریانونه ترسترګو کیدل کوم چی دغه دری ګونی جریانونه داستعمار دهڅی او دزیار محصول کیدای شی وګڼل شی کوم چی عبارت دی له : ۱- **سیاسی مساله** « دهند دنیمی وچی تجزیه اودپاکستان دایجاد دپاره هلی ځلی» ۲- **د مسلمانانو غورځنګ**

۳- **دهند استقلال طلبی له انګلیسی استعمار څخه** .

دلته دهند دتاریخ پاڼی یوڅه نورهم شا ته اړواوهغه داچي : مغولی«بابرشاه» دهندوستان فاتح دامیر تیمور له کنوسو څخه کوم چی لمړی فرغانه یی تر خپل ولکی لاندی راوست اودپنجاب – لاهور اواری یا جلګی هم راونیول اوداپریل دمیاشتی په شلم کال «۱۷۸۲ میلادی » کی د «پاني پت » په جلګو اوبی ساری جګړه کی ددهلی پاچا سلطان ابراهیم «لودی» لښکرو ته دروند ماتی ورکړ اوپه هند کی دمغلودګورکانیانو دامپراتوری بنیاد یی کیښود ، کوم چی دغه امپراتوران له «۱۵۳۰» څخه تر «۱۷۸۲» میلادی کال پوری چی دهغو وروستنی پاچا یعنی دوهم( بهادرشاه ) وه چی دانګلیسانو پواسطه سره رانسکور اودهمغو پواسطه سره رنګون ته تبعید شو (۲۵۲) کا له پرهند با ندی سلطنت کول .دغه مغولی امپراتوران یا پاچاهان کوم چی درباری او عیاشی ژوند سره عادت کړی وه هغه دخپلو پلارونو او دنیکه ګانو زړه ورتیا او میرانه له یاده ایستلی وه اوددی دپاره چی د قدرت په اریکه کی پا تی شی حاضر وه چی هر استعمارګر او هر اجنبی قوتونو ته امتیاز ورکړی . د با بر ځوی د«همایون شاه » په زما مداری کی پرتګا لی «واسکودوګاما» دهند جنوب ختیځ کی د «مالامار» سواحل تر لاسه کړ ، او په هغه ځای با ندی په پرتګالی ژبه سره د (المید یا) نوم کیښود چی اوس هغه ځای د «ګوا» په نوم سره یادیږی ، اودهند په غربی برخه کی موقیعت لری ، (همایون شاه) چندان قدرتمند سړی نه وه اوهغه داچی دیوی خوا د خپل ورور اود بلی خوا د« شیر شاه » افغان تر سخت تهد ید لاندی پریوتی وه نو په همدی وجهه هغه یعنی (همایون شاه) دایران صفوی دربار یعنی (شاه طهماسب ) ته پناه ویوړ اودهغه په کمک سره خپل ورور «کامران» ته ماتی ورکړ اودهند تخت اوتاج یی بیرته دخپله کړ ، په دی مهال

کی پرتګالیانو له موقع څخه استفاده وکړاودهند په غربی سواحلو کی ځانته څو تجارت خا نی پرانیستل ، اودتجارت خا نو دسا تلو د پاره نظامی اډی هم ایجاد کړل ، په همدی وختونو کی د«همایون شاه» څخه وروسته «اکبر شاه » په کال(۱۵۵۶) کی په سلطنت ورسید چی تر (۱۶۰۵) پوری دهند سلطان وه ، «اکبرشاه » هغه یواځنی سلطان اودهند زمامدار وه چی ددربار په کار وبار او سروسامان ورکولو کی ځان مصروف سا تل ، اودهمدی پاچا په زمامداری کی په کال (۱۵۵۹) کی ملکه «الیزابت» دانګلستان پاچا یا ملکه شو ،اودانګلیس« شرق هند کمپنی» یی رامینځته کړاوخپل استاذی « اکبرپاچا » ته ولیږل اودهغه څخه نوموړی کمپنی ته زیات تجارتی امتیازات تر لاسه کړ ، په دی وخت کی دفرانسی پاچا ( څلورم هانری ) په کال ( ۱۶۰۴) کی دانګلیس سره په سیالی کی دفرانسی شرق هند کمپنی جوړ کړاوخپل استاذی « اکبرشاه » ته ولیږل چی تجارتی امتیازات تر لاسه کړی اما «اکبر پاچا» هغه ته امتیازات ورنکړ ، حال داچی انګریزانو د لمړی «جیمز» دسلطنت په دوره (۱۶۱۱) کی له هند څخه زیات امتیازات تر لاسه کړی وه کوم چی پرتګالی تجاران یی دهند له غرب څخه وشړل ، «جهانګر پاچا » کوم چی دشاه عباس صفوی همعصر وه هغه دخپل دربار دمخارجو دتامین د پاره په ( ۱۶۳۹) میلادی کال کی( مدراس) چی دهند په جنوب کی واقع دی پرانګریزانو باندي دپیسو دلاسته راوړلو په نیت خرڅ کړ اوپه« اګره » کی دخپل ښځی مقبره دتاج محل په نامه سره یوعمارت جوړکړ چی نوموړی عمارت د«شلو» کا لو په موده کی جوړ شو اوپه هغه کی دهندی اوداسلامی دوه ګونی معمارانو ستایل پکا ر وړل شوی دی چی لا تراوسه یو له ډیر مشهور اوتاریخی او د (۷) عجایبو غرایبو له جملی څخه یوهم همدغه عمارت دی .

وروسته له هغه دهندوستان سلطنت «اورنګ زیب »ته ورسید،هغه یعنی اورنګ زیب له هغه ځایه څخه چی دخارجی کمپنیو ګټی ته دهند داستقلال څخه لمړیتوب ورکول نو په همغه کال کی «سیواجی» د«ماراتهه» د طایفی مشرچی یو وطنپرست سړی وه داورنګ زیب ددولت په وړاندی پاڅون وکړاود «بیچاپور» سیمه یی تر خپل ولکی لاندی راوست او «اورنګ زیب » مجبور شو چی هغه ته د«راجا» لقب ورکړی ، «اورنګ زیب» په کال «۱۷۰۷» کی مړ شو اووروسته له هغه دمغول امپراتوری دتزلزل سره مخامخ شو ځکه چی دهغی ځای ناسته «بهادرشاه » ددی توان نه درلود چی په هند کی سلطنت وکړی . نو په دی وخت کی د انګلیس کمپنی شرقی د هند ددولت څخه زیات امتیازات لکه ګمرکی معافیت هم تر لاسه کړ ،اود «محمد شاه ګورګانی» لمسی «بهادرشاه» په کال«۱۷۳۹» کی چی «نادر» نومیده پرهند با ندی یرغل ویوړل اوتریوه وخته پوری دهلی دهغه په تصرف کی وه ، او وروسته له یو مودی څخه د زیاتو غنایمو سره بیرته ایران ته ستون شو،په کال« ۱۷۴۶ »کی د فرانسی دهند شرق کمپنی استاذی «دوپلکس» وتوانید چی د«مدراس » تجارتی بندر چي مخکی پریو انګلیسی تجار باندی خرڅ شوی

وه ترخپل تسلط لاندی راوړی ،نوله هغه ځایه څخه چی انګلستان دفرانسی سره سیالی کول ، «رابرت کلایو» خپل استاذی دډیروامتیازاتو دتر لاسه کولو دپاره « ګورګا نی» پاچا ته ولیږل چی د هغه سره مذاکره وکړی ، په کال «۱۷۵۷» کی دهغه څه په بدل کی چی نوموړی پاچا دانګریزانو له شرق هند کمپنی څخه تر لاسه کول ، هغه کمپنی ته دبنګال لوی ولایت ورکړ چی بیا وروسته له هغه فرانسه او انګلیس خپل مینځ کی دمستعمراتو پرسر جور جاری وکړ ، فرانسه دخپل مستعمره څخه په هند کی تیریږی اوانګریزانوته پریږدی امادهغه په بدل کی فرانسویان داسی مجوزترلاسه کوی چی دخپل مستعمراتو لمن په افریقا کی پلن کړي، کوم چی دانګلیس اود فرانسی تر مینځ دغه تړون په کال «۱۷۶۳» کی ترسره شو.- وروسته له یو لړ مودی څخه د انګلیس دولت کمپنی شرق هند ته په خطاب کی وویل چی خپل ځا نته ددولت ددیوان نوم ورکړی ، سره دهغه چی «بهادرشاه ګورګانی» په کال « ۱۷۸۲» کی چی له هیواده تبعید شوی وه بیاهم دانګلیس داستعمار بشپړ لمن دهند په ټولو برخو کی پراخه شوی نه وه تر هغه چی «تیپو سلطال» چی دمیسور «مهاراجه »د «د حیدر علی خان بهادر» ځوی چی وروسته دحیدرعلی خان څخه دمیسورپه سلطنت رسیدلی وه هغه دخپل مخه څخه لیری کړی نو انګریزانو مجبور شو چی په کال «۱۷۸۴» کی د«تیپو» سره دسولی پیمان لاس لیک کړی داځکه چی «تیپو» صاحب دانګریزانو سره یی چندان جوړه نه وه او اوپه باطن کی دفرانسویانو سره ښه مروده لرل بالاخره په کال «۱۷۸۸» کی انګریزانو په «سرینګاپاتام» د«تیپو» صاحب پر پلازمینه باندی هجوم ویوړل او «تیپو» صاحب یی په قتل ورسول اوله همغه تاریخ څځه وروسه پر تما می هند با ندی د انګریزانو دا ستعمار لمن خپور شو . او هند دانګلستان دیو نایب السلطنت نشین په بڼه دانګریزانو په تصرف کی ولویدل .

*محترمو لوستونکو* : داسی فکر ونکړی چی زه به دموضوع څخه خارج شوی یم ، بلکه ځما مطلب دلته دهنوستان دتاریخ له لنډ یادونو څخه دا دی چی پاکستان څرنګه او په څه پلمو سره دانګلیس داستعمار پواسطه سره مینځ ته راځی ؟

هندوستان دانګلستان دنایب السلطنه نشین په بڼه :له هغه نیتی څخه وروسته چی دانګریزانو بشپړ تسلط پر هند با ندي پلی شو نو دهند دملی کنګرس له تشکیل څخه بیا د« مهاتما ګاندی » تر ظهور پوری دهندوستان یوشمیر تحصیل کونکی روشنفکران چی په ناسیونالیستی نظریو با ندی سمبا ل وه په کال «۱۸۸۵» کی دهند په کنګره کی سره راټول شول او په دغه مجمع یا کنګره کی دهندوستان هندوان اومسلمانان غړیتوب لرل ،اودهمدی کنګره له مینځ څخه په کال «۱۸۹۵» کی دهند دکنګرس حزب رامینځته شو چی دهغه اصلی هد ف دانګلیس داستعمار څخه دهندوستان آزادی او داستقلال ګټل وه. انګریزانو په لمړی نړیوال جګړه کی هندوستانیان د جګړی میدان ته لیږل چی د

انکلیس په پلوی جنګ وکړی ، په هرصورت د نړیوال دلمړی جګړی په پایله کی «مهاتما ګاندی» چی په افریقا کی د ضد نژادی په مبارزه کی بنکیل وه اود تورپوستا نو دحقونو دلاسته راوړلو د پاره جنګید ل، له افریقا څخه هند ته راستون شو ،اود انګریزانو پر ضد دخپل مبارزی بیرق پورته کړ اوپه کنګره کی دانګریزانو په مخالفت او مبارزه کی د «مد نی مقاومت منفی » شعار رامینځته کړ او هغه په تاریخ کی یواځنی کس وه یا هغه کس وه چی وتوانید دخپل پیروانو سره په ګډه انګریزانو ته دهند په نیمه وچه کی ماتی ورکړی هغه پر دغه قوی باور اوبریالی مفکوره باندي ولاړ وه او هغه داچی باید دخپل هدف دترلاسه کولو دپاره دعدم تشدد پالیسی غوره کړ شی ، دچا په خبره چی د «مهاتما ګاندی» دغه پالیسی د«پانیشاد » له فلسفی څخه چی د « بودا او د حضرت مسیحی » تګ لاره وه اخیستل شوی یا دهغه فلسفی سره ریشوی اړ یکی لری . یعنی مدنی نا فرما نی هغه داچی خپل پیروا نو ته ویلی یا د هند تولو خلکو ته ویل چی دانګریزانو څخه هیڅ شی ( هرهغه شی که کالی دی ، که خواړه دی اویا که دژوند هره وسا یل او سا ما ن اسباب دی ) مه اخلی ،هغه د جواهر لعل نهرو سره په کراتو مراتو بندی شوی اوهر کله چی له بنده خلاص شوی خپل مبارزی ته لکه دپخوا په څیر دوام ورکړی اودخپل سنګر څخه یوه لویشته هم نه دی تر شا تللی ، د اوګست یا د اووت په «۱۵» کال «۱۹۴۷» کی «لاردمونت باتن » په هند کی داتګریزانواخری نایب السلطنه هندوان یی دهندوستان اومسلمانان یی دپاکستان په نوم سره ونومول (مهاتما ګاندی ) او (علی جناح ) یی دهندو اود پاکستان د معمارانو او یا دبا نیا نو په نوم سره په رسمیت وپیژندل. په هرصور ت په لنډه توګه سره باید وویل شی چی د هندوستا ن په تجزیه اود پاکستان په جوړولو کی دری زور مند جریا نا ت چی عبارت له ۱- انګریزانو ، - ۲- دهند هند و ناسونا لیستا نو او۳- دهند مسلما نا نو. څخه دی ستر رول لوبولی دی دیاده باید ونه ایستل شی چی مسلم لیګ دهند دکنګرس له مینځ حخه په کال (۱۹۰۶) کی تشکیل شو اوداسقلال په درشل کی دهندوانو اودمسلمانو ترمینځ د کشمیر دویش پر سر لانجه پیدا شو اوله همغه وخته راهیسی هندوستان په څوفرقو سره کوم چی دانګریزانو پالیسی وه وویشل شو بالاخره (مهاتما ګاندی دجنوری په «دیرشم » کال « ۱۹۴۸ » کی دیومتعصب هندو له خوا په دی تور چی هغه دمسلماناو سره مدارا کوی ترورشو. مونږ ه تردی ځایه ورسیدو چی پاکستان دهندوستان په د ننه کی د «علی جناح» په سرګردګی ( ګاندی دهندوستان دتجزیه کیدو په وخت ناروغ وه او کله چی دناروغی له بستر څخه پورته شو نود هندوانو اود مسلما نا نو په یوه ګډه غونډه کی «علی جناح »ته ډیر عذر وکړ چی هندو مه تجزیه کوه مونږ تاته دصدارت چوکی ورکو اما له هغه ځایه څخه چی هغه پنځه کاله په انکلستان کی تحصیل کړی وه اودانګریزانوسره زیا ت نا سته او ولاړه کړی وه د مهاتما ګاندی خبره ونه منل او دقاید اعظم د لقب دترلاسه کولو دپاره له هند څخه بیل شو) اود هندو انو سره په ضد په مذهبی دلیل اود هغه وخت د عثمانی

امپراتوری د سقوط او دخلافت دبیا له سره په راوړلو اود اسلامی نهضتونو په وده اودهغه دربیتو په ځغلید لو سره د هندوستان دمسلما نا نو په ذهن کی اوبالاخره د بریتانیا دفرقه سازی او(تفرقه بیانداز وحکومت کن ) اودهندوانو دناسونیا لیزم په زیا تید و سره جوړ شو .

رفرنس ها :


1. Partition of India and the creation of Pakistan

www.globalwebpost …/india_ wing ht.

why was Pakistan created 2-

www.wisegeek.org/was pakistancreate.htm

partition and the two theory Pakistan failed state –blogspot.com-3

4- سایت نقشه ...نویسنده علی اصغر رجا .





دننی پاکستان نقشه

## ب- دپاکستان اجتماعی اقتصادی ستونزی :

دانسان دژوند دیر خواږه اوپه زړه پوری شیبی یا پړاویا دیر آرام ژوند هغه وی کوم چي دهغه دخپل وینی پوری تړلی یوځوک لکه موراوپلاراویا دهغه دیر نژدی خونی متعلق وغواړی اویا خپل دنده وبولی چی دخپل نوی زیږیدلی ماشوم هر اړخیز مراقبت

وکړی اویا دهغه دپاره ډیر دخوښی شیان چمتو کړی ، دخپل نوی زیږیدلی ماشوم جامی بد له کړی ،هغه ته شدی اویا لازم خواړه ورکړی، هغه پریمینځی او هغه خوندی وسا تی اودهغه دهوسا ژوند د پاره د خپل توان او د وسی په اندازه کار وکړی ، اود همدی نوی ماشوم دودی پړاونه دهغه دموراوپلارپه نه ستړی کیدونکی هلی ځلی سره مخ په وړاندی لاړشی ترڅوچی هغه پخپل پښوودریږی اودکوچنیوالی ټول دوری یودبل پسی تیرکړی او اوبلاخره دځوانی دوری ته ورسیږی کوم چی طبعاً هغه هم د خپل هوسا ژونددپاره دخپل چاپیریال اود خپل د نړی د هغه ستونزی او خنډونو سره مجا د له کوی کوم چی دهغه دهوسا ژوند دلاری خنډ گرځید لی وی ، نوپه دی بنیاد سره هغه دی ته هم پام نشی اړولی یا ددی وخت ورته نه میسر کیږی چی هغه د یو ارما نی اوخیالی بشپړ نړی په مفهوم کوم چی« توما س مور » پخپل ډیر مشهور ناول کی دخیالی اوارمانی جزیری ترعنوان لاندی ترسیم کړی هغه شان یوه ماحول او محیط ځانته جوړ کړی او دبلی خوا ښخه خیالی نړی د ریښتیانی نړی اوماحول ښخه ډیر توپیر لری یعنی خیا لی نړی له واقعی نړی ښخه ډیر لیری دی اوپه هیڅ بڼی سره زمونږ د چا پیریال ، ماحول سره همغاړیتوب اوهمخوانی نه لری اوهغه داچی ، مونږ په هغه نړی کی ژوند کوو چی مونږخا ما خا د یو شمیر اجتماعی – اقتصادی - سیاسیی - فرهنگی او ........ سره مخامخ یوو او بیا له هغه ځا یه ښخه چی مونږ په یوه ټولنه کی ژوند کوو نو طبعاً چی دټولنی نور غړی او بیا په مجموع کی ټولنه پخپله د یو لړ اجتماعی اقتصاد سیاسیی فرهنگی ... ستونزو سره لاس په گریوان وی او ددی د پاره چی ټولنه دداسی ستونزو سره مبارزه وکړی ترڅو چه دهغه ټولنی افراد او یا غړی وشی کړای چي خپل لمړنی احتیاجات لکه سرپناه - کالی – خواړه او ځنی نور ضروریات تر لاسه کړی نو دهمدی پورتنی تذکراتو اویادونو ښخه منظور دا چی پا کستان هم لکه د یو پحا ل دپرمختگ هیواد دیولړ تولنیز ستونزو سره مخامخ دی چی زه غواړم دغه ستونزی په تر تیب سره په لاندی بڼه توضیح او تفسیر کړم :

A -*تولنیز ستونزی* : پاکستان کله چی په کال (۱۹۴۷) کی د یوهیواد یا د یو ملک په بڼه دهندوستان دتجزی اوویش ښخه مینځ ته راغی په اوایلو کی د یولړ ستونزی لکه دبودجی یا دپیسو نشتوالی ، دمهاجرینو دپاره دبیا جوړنی ستونزی دزیربنا اود کافی تاسیسا تونشتوالی،اودناداری اوکم بغلی سره مخامخ وه ،اود پاکستا نی بیلتون غوښتونکو لکه دقاید اعظم «علی جناح » دوسه هم پوره نه وه چی دغه راولاړی شوی ستونزی یو دبل پسی له مینځه ویسی اودبلی خوا ښخه ژوند هم د هغه سره یعنی د «علی جناح » سره ملگرتیا ونکړ اوپه یوناڅابی توگه سره له دی نړی ښخه سترگی پټی کړ نو په دی وجهه پاکستان له همغه لمړی ورځو ښخه لاتراوسه د گڼ شمیر ستونزو سره لاس په گریوان دي . اوداځکه چی وروسته د«علی جناح » ښخه دهغی ټول ځای نا ستی په

هیڅ بنې سره دی ته پا م وانوړول چی ستونزی حل کړی بلکه اکثراً دغو لیډ رانو او واکدارانو په فساد سره ککړ اود خپل ژوند د سمون د پاره د خلکو خواستی ته هیڅ توجه ونکړل .

۱ - قانون شکنی:دپا کستان یوله خوراډیرعمده اولمړنی ستونزه ددولتمدارانو او دهغه هیواددلوړ پوړو چارواکو له طرفه قانون شکنی اویا دقا نون نه مراعت کول دی ، دغه د قانون نه مراعات کول اوس د هغه هیواد دټولو اداری مقا ما تو په یوه فرهنګ با ندی بد له شوی حتی تر دی حده پوری چی د پاکستان لوړ پوړی مقا ما ت د ملګرو ملتونو د میثاقونو او قوانینو څخه هم سرغړونه کوی اودرییښتیا نی قا نون د پلی کولوڅخه تل ډډه کوی اودخپلو شومو مقاصدو دترلاسه کولو دپاره له هیڅ ډول معاملی څخه ډډه نه کوی کوم چی اوس دغه هیوادتقریباً په نړی کی لکه داسرایل په څیرنه غواړی چی دبین المللی قوانینوته غاړه کیږدی نو چیری چی په یوه هیوادکی قانون مراعات ونشی نو باید دهغه هیواد څخه دا توقع ونه یوړل شی چی کواکی هغه په فرهنګی لحاظ یومتعهد هیواد دی دبیلګی په بڼه :پاکستان دافغانستان سره دافغانی تجارانود اموالو په برخه کی چی دکراچی له بندر څخه باید د ما لیی په ورکوسره را وباسی اوله هغه ځایه څخه افغا نستا ن ته راوړی کله ناکله بی له دی چی پخپل تعهداتو با ندی ودریږی ، قانون شکنی کوی اوپه یورنګ یا بل رنګ سره د افغانی تجارانو د مال التجاره دلیږلو په وړاندی خنډونه را ایجادوی اویا وقتاً فوقتاً د تورخم لاره په کلی قانون شکنی سره بندوی اوپه دی توګه سره افغا نی لوری ته ستر تا وان رسوی چی دا پخپله نه یوا ځی د یومسلمان هیواد چلند ندی بلکه دارنګ عمل یو شیطانی او ا بلیسی کړنه دی چی ټول خلک پر هغه باندی پوهیږي .

۲- تروریزم : دپاکستان بله خورا ډیر عمده ستونزی اوپرابلم تروریزم دی ، حتی تر دی حده پوری چی پاکستان اوس دتروریزم په ځاله بدله شوی اوهر تروریست چی دنړی په هره څنډه کی دامنیتی اورګانونو له خوا ونیول شی،نوهغه تروریست خپل تروریستی زده کړه په پاکستان کی تر سره کړی وی . فلهذا تروریزم دپاکستان دخلکو دپاره یو غټه سرخوږی او په یوه کابوس باندی اغوښتی دی کوم چی دخلکو مصونیت اوامنیت ته ستر تاوان رسوی ، اوهغه داچی دغه تروریستی حملی د پاکستا ن په د ننه او په بهر کی په مسجد ونو ، هوټلونو ، ادارو ، مکتبونو ، پوهنتونو ، هوايي ډګرونو او په هر ځای کی چی دخلکو ګڼ ګون وی ترسره کیږی او په همدی دلیل سره دپاکستان اولس ته دا سوال را پیدا شوی اوهغه داچی دحکومتی مقا ما تو څخه پوښتنه کوی چی زمونږ تقصیر او ګناه څه دی چی هره ورځ زمونږ بچی ، خپلو خپلوانو او زمونږ دهیواد خلک دتروریستی اعمالو په اجرا سره خپل ژوند دلاسه ورکوی اوهیڅ څوک نشته چی د هغو مخه ونیسی او مونږ له دغه جنجال څخه خلاصه کړی ؟ ایا داپخپله قانون شکنی نه دی چی دپاکستان

دولت اودهغه اطلاعاتی جاسوسی اداره (اي اس آی )کله ناکله پخپل لاس تربیه کړ شوی تروریستان دتروریستی اعمالو د سرته رسولو د پاره افغانستان او هندوستان ته لیږی چی هلته خُلک په وینی ولړوی ، ایا دا دیو هیواد دپاره چی دملګرو ملتونو ځان غړی بولی دغسی اعمالو ته لاس پوری کول خطا نه دی ؟ ایا همدغه د پاکستا ن دولت نه دی چی په دیو بندی مدارسو کی نوی تنکه ځوانانو ته دسړی وژنو درس ورکوی اویا همدغه د (ای اس آی ) اداره نه دی چی تنکه ځوانانو ته انتحاری درسونه ور زده کوی. هیڅکله لمر په دوه ګوتو نه پټیږی !

۳- بی وزلی اویا فقر : دپاکستان یوله خورا ډیر پخوانی ستونزی اوپرابلم څخه بی وزلی اوناداری دی کوم چی دپاکستان له تشکل څخه لا تراوسه دپاکستان خلکو ته په میراث رسیدلی اودا پخپله دپاکستان دتجزیه غوښتونکو یوه عټ اشتباه او تیروتنو څخه شمیرل کیږی که نه اوس په رڼو سترګو ښکاری چی هندوستان څرنګه دودی په حال کی ډیر چټک ګامونه پورته کوی چی دنړی دخلکو دحیرانتیا موجبات یی برابر کړی دی اما پاکستان هرورځ په چل او دوکه بازی سره دامریکی اود خپل زیړونکی هیواد انګلستان څخه دخپل بقا دپاره پیسی تر لاسه کوی ، د لته داسوال را پیداکیږی چی پاکستان به تر څو پوری غربی نړی وغلوی او په دوکه بازی سره دخپل نظامی حکومت چرخ وڅرخوی ، اوس هر پاکستانی په دی ښه بوهیږی چی هغه دژوند داولی اولمړنی احتیاجاتو لکه سرپناه ـ ډوډی ـ کالی نشی کولی چی خپل کورنی د پاره په اسا نه سره تر لاسه کړی پاکستانیان نه یوازی داچی کوراو سرپناه نه لری بلکه هغو د پاکی اوصحی اوبو له څښلو حخه محروم دی ، صحی لمړنی تسهیلاتو ته لاس رسی نه لری ، او له همدی کبله په راز راز ناروغیو اخته دی او دخلکو په مینځ کی دمړنی کچه ډیر لوړ دی اود بلی خوا څخه تقریباً ډیری پاکستانیان دناداری اودکم بغلی دکرښی (خط فقر) څخه لاندی پروت دی ، فقر اوکم بغلی پخپله دنوروستونزو زیړونکی دی کوم چی پاکستانیانو دهغه سره لاس په ګریوان دی اودهغوی زیات شمیر خلک دیوی مړی ډوډی دترلاسه کولو دپاره دخلیج هیوادونه ته دکار د میند لو دپاره کډه کوی . اویا داچی اکثر پاکستانیان دخپل هیواد په دننه کی غلا اوسرقت کوی اویا په ځنی نورو ناجایزو اعمالو لاس پوری کوی اوپه دی شکل سره په جزا اونورو محکومیتونو سره محکوم کیږی .

۴- بیسوادی:دپاکستان په تولنیزیااجتماعی ستونزوکی یو هم دګن شمیرخلکوبی سوادی او نه لوست اونه زده کړی پرابلم دی کوم چی تقریباً «۵۶٪» خلک نه لوستلی شی اونه هم لیکلی شی او د پاکستا ن دولت هم له تیرولسیزو څخه لاتراوسه ونشوکړلی چی بیسوادی له دی ملک څخه د مینځه ویسی اودبلی خوا څخه تقریباً (۵۰٪) زده کونکی خپل تحصیلات نه ترسره کوی او د خپل کورنی دپاره د ډوډی راوړونکی او یا د نفقه راوړونکی په صفت خپل لمړنی تحصیلات هم نه ترسره کوی ، د پا کستان دولت

دنورو ګاونډیو هیوادونو په پرتله ونشو کړی چی دپاکستان له جوړیدو څخه لا تراوسه د سواد آموزی پروسه چټکه کړی لکه هغسی چی نور آسیایی هیوادونه د بیسوادی په له مینځه وړلو کی اوچت ګامونه اخیستی دی ، دلته په پاکستان کی زیات شخصی او خصوصی ښونځی او کالیجونه دی کوم چی دفیس یا د پیسو په اخیستلو سره زده کونکو ته درسونه ورکوی اما له هغه ځایه چی دغه خصوصی مدارس دپیسو دترلاسه کولو په منظور په کار ولوید لی دی دهغه د تحصیل کیفیت ډیر ښکته دی اود اپخبله یوه ستونزه دی چی د با کستان خلکو دهغه سره لاس به ګریوا ن دی .

۵- فساد اوبډی اخیستنه : فساد اورشوت په پاکستان کی بله ډیر غټ اولوی اجتماعی ستونزه اوپرابلم دی له وروستیو احصایو څخه چی دنړی په سطح کی دهیوادونوپه مینځ کی دفساد اودبډی اخیستو په اړین څیرنه شوی دی پاکستان دفساد ددرجی په نظر کی نیولو سره دنړی په سطح کی دوه څلویښتمه «۴۷» هیواد دی . فساد په پاکستان کی له لمړنی ښکته اداری څخه بیا د پاکستان تر لوړو ادارو پوری په یو شکل اویا په بل شکل سره خپل لمن غوړولی دي ، فساد دپاکستان په لوړو ادارو کی ډیر ژور ریښی ځغلولی کوم چی دهمدی دلیل په نظر کی نیولو سره هیڅکله یو با انصاف سړی په لوړو مقاماتو کی نه ګمارل کیږی اوداځکه چی په پاکستان کی اکثراً لوړ چوکی تقریباً په اجاره او سرقفلی سره نیول کیږی او ګمارل شوی سړی داسی فکر کوی چی دغه مقام می پخپل پیسی سره اخیستی دی نو هغه له هیڅ ډول قانون شکنی څخه نه سپموی اودبلی خوا څخه د حکومت له طرفه مکافات اومجزات هیڅ نه په نظر کی نیول کیږی یعنی دهیڅ یو رشوتخور څخه پوښتنی درویجنی نه کیږی په پاکستان کی دلته هر شی په بیسو سره معامله کیږی اوهیڅوک دمتمولو اود معتبرو خلکو په وړاندی قانون نشی پلی کولی نو په همدی وجهه دی چی دپاکستان دخلکو شتمنی لوټ او تالا کیږی . اوهره ورځ تور پیسی په سپینو پیسو باندی اړول کیږی چی حتی دغه مرض او بد خصلت دځنو افغانی مجاهید ینو چی په پاکستان کی دجهاد په وخت کی شپی اوورځی تیر کړی په همدغه عادت باندی ککړ شوی اودفساد لمن یی اوس دافغانستان په ادارو کی هم مروج کړی دی .

۶- بیکاری : دپاکستان د اجتماعی ستونزو په جمله کی یو هم دبیکاری ستونزه دی کوم چی دهغه هیواد یوزیات شمیر خلکو چی د کار او دندی د مخکی وړلو اویا دسرته رسولو توان او قدرت لری بیکار اوبی روزګار دی ، د ځنو رسمی امارو او داحصا یو پر بنیاد په پاکستان کی د بیکاریو نرخ یا میزان ( ۷،۴٪) اما دغیر رسمی منابعو په قول سره د بیکاری اندازه (۱۲٪) اټکل شوی دی .دلته دبیکاریو په اړین ډیر زیا ت دلیلونه په لاس کی شته لکه د اوتوماتیکو ما شینونوپه کار ولوید ل دکارګرانو د کار په عوض ، دصنایعو یا د فابریکو کموالی ،غلط اومتناقض تعلیمی سیستم ، هغه څه دی چی پرخلکو

باندی ډیر ناوړی تاثیر غورځولی اوله همدی کبله دی چی ډیری پاکستانیان دکارد میند لو دپاره دهیواد څخه دبا ندی په مهاجرت کی دی اودغه لړی د هر کا ل په تیریدو سره زیاتیږی اویا داچی دبیکاری له امله د جنایاتو اودجرمونو اندازه هرکال په زیا تید و دی .

۷- کوچنیان پکار استخدامول : پاکستان یو له هغه هیوادونو څخه دی کوم چی کوچنیان څه په لویو ښارونو او یا څه په کوچنیو کلو کی په مختلفو کارونو ګمارل کیږی یعنی په کار اوشغل کی دکوچنیا نو د استخدام کچه ډیر لوړ اوزیات دی،دوی په فابریکو ، دماشین الاتو په کار ،دبرق اودبرقی ماشینونو پکار ، په قالین اوبدلو د چینی اود ښیښو په فابریکو او دفوټبال دتوپ په جوړولو په کارخانو کی کی کار کوی ، دوی ته د کارګرانو دورځنی اجوری په پرتله ډیره کم اوناچیز روزمزد ورکول کیږی اودهغو دپاره دتحصیل اود زده کړی هیڅ اسا نتیا په لاس کی نشته ،دنړی ټولنیزرسنیو د پاکستان د کوچنیانو داستخدام په اړین د پاکستان پر دولت با ندی ډیر زیات نیوکی کړی او حتی تردی چی هغه تولیدی اموال او اقلام کوم چی دکوچنیا نوپواسطه سره تولید یږی د هغه پرخرڅلاواویا پیرید لو با ندی دډیرو هیوادونو له خوا بند یز ولګول شو ،اما پاکستا نی مقا ما ت دی موضوع ته هیڅ پام وانړول او د کوچنیا نوداستخدام موضوع همغسی چی په پاکستان کی وسعت لری همغسی پخپل حال کی پاتی دي . اوپه پاکستان کی د انفلیشن په زیاتیدو سره د پاکستان اکثر کورنیو دی ته مجبور کیږی چی د خپل کورنی دژوند دبقا د پاره خپل کوچنیان کار ته ولیږی تر څو چی دهغوی په همغه کمه اندازه معاش سره ژوند وکړی.

هسی چی مو پورته دپاکستان په یوشمیر اجتماعی پرابلمونو باندی رڼا واچول دهغه څخه سربیره دلته په پاکستان کی یوشمیرنورستونځی هم ترسترګوکیږی چی دپاکستان پرخلکو باندی ډیر ناوړی تاثیر غورځوی اوهغه لکه دنفوس زیاتوالی ،دمنابعو کمښت ، اقتصادی اومعشیتی نا برابری د خلکو اود کورنیو ترمینځ ، د اقتصادی اود معشیتی د ستونزو د موجودیت له کبله ډیری خلک په خود کشی باندی لاس پوری کوی اودا هغه ستونزی دی چی نن په پاکستان کی دهرکال په تیریدو سره دهغه لمن لا پراخیږي .

B – اقتصادی ستونزی : اقتصادی اسانتیا وی اوښیګڼی اویا اقتصادی منا بعو ته لاس رسی پخبله د یو هیواد د پرمختګ د ملا تیر تشکیلوی، ا وپه مجموعی توګه سره هغه مخکی تللی هیوادونه کوم چی اقتصادی ستونزی سره مخامخ نه دی هغوی دهر کال په تیریدو سره دخپل هوسا ژوند لا د ډیرهوسا ینی په اند یشه کی ولویږی او په ډیر شوق اومینی سره د یو لړ کارونو په لټه کی کیږی اویا داچی دخپل معلوما تو په لوړولو سره کوم چی د مطا لعی دلاری تر لاسه کوی خپل روغتیایی چارو ته هم پا م اړوی او په طبی بنیا د سره دخپل صحی حالت څخه مراقبت او څارنه کوی اوپه دی بنیاد سره دخپل دژوند د توقع کچه پورته وړي . اما خراب یا نا وړی اقتصاد په یوه هیوادکی داکثرو

پرابلومونو اود ستونزو اصلی اوبنیا دی رینبی جوړوی  له بده مرغه  پاکستان هغه هیواد دی چی دهغه اقتصادی وضع  ډیر خراب  اونا وړی دی   چی دغه  اقتصادی  ستونزی عبارت دی د پوتانسیل بحران ، د با ند نیو پا نګوالانو  د سرما یه ګذاری  عدم توجه ،  د صنعت دپرمختګ د پاره ، بیرته پاتی اوزوړ تکنالوژی اوهغه هم په ناکاپی مقیاس سره ، دپاکسنتا بنکیل کیدل دتروریزم سره په جګړه کی اویا  پخبله  د تروریزم  په ایجاد ،  زده کړی  اولاربنونو سره    هغه څه دی چی دپاکستان دغه نیمګړی اقتصاد هم دګوابن  سره مخامخ شوی اودهغه لمن ددولت دسهل انګاری  سره ورځ  په ورځ لا پسی  پراخیږی  ، دپاکستان مختلف کارخانی او دولتی تاسیسات چی یو وخت دپاکستان د ودی اودپر مختګ دپاره په کارولویدلی وه ، نن ددولت د نه پاملرنی اود دملی پانګوالو څخه د نه  حمایت له امله  دیوی خوا څخه ملی پانګوالی دباندنینو کالیو درقابت په مارکیټ دماتی سره  مخامخ اود خپل  فابریکی  دروازه  تړی  او د بلی  خوا د پاکستا ن په د ننه کی دتروریزم کړنی اودفعالیتونودرینبی دځغلیدو له وجهی څخه با ند نی پانګوالان هم د خپل  پا نګی د سا تلو اود نه ورشکستی په پام کی لرلوسره خپل سرما یه له پاکستا ن څخه باسی  اوزړه نه بنه کوی چی دلته سرمایه ګذاری وکړی اویا خپل فا بریکی  وچلوی   او  په همدی بنیا د دیو لړ  راپورونو کوم چی تر لاسه شوی تقریباً (٪۷۰) خارجی سرمایه داران خپل کار وبار په پاکستان کی په ټپه درولی اویا داچی خپل سرما یه له پاکستان څخه ویستلی دی اویایی باسی .

بورس سهام  (د اسهامو پلورنځی  یا د صرافا نو دراکړی  ورکړی کا ر وبار)  هم په پاکستان کی د واقعی بحران اصلی انځور راکاږی ، غیرثابت اومتزلزل  سیا سی سیستم، ناوړی او خراب دیکتاتوری چلندهغه څه دی چی نه یواځی پردیمو کراسی باندی بد تاثیر غورځوی بلکه د  پا کستا ن  د اسها مو  پر بورس  هم  ډیر  نا وړی  اغیزی غورځولی اویا غورځوی . د بیلګی په بنه سږکال   څو ځلی دکراچی  داسهامو  بورس  یا  داسهامو مارکیت دپاکستان په تاریخ کی  تر  اخرنی نرخ  پوری بنکته راغی یا ډوب شوچی دهغه له وجهی څخه محلی اوباندنی پانګوالان هم ټکنی شوچی خپل سهام  دپاکستان له مارکیټ څخه وباسی اویا څرنګه ؟   په کال (۲۰۰۸) کی دپاکستان د اسهامو د مارکیټ  د اجراتو څخه داسی معلومیږی  چی نوموړی سهامی مارکیټ   جندان بنه کړنی  نه  دی  ترسره کړی  ګرچه حالت کم پایشته وه    اما پخبله دپاکستان دولت  په  دری   اخری   ربع  کال (۲۰۰۸) کی  ستاک مارکیټ کنګل کړ کوم چی دهغه  دبهبودی لاری دخطر سره مخامخ کړ اوس په ډاګه ویلی شو چی دپاکستان ددولت د همدغی  خطا  اواشتباه  سره   داسهامو مارکیټ په پاکستان کی تر ترپزي پوری په بحران کی غوټه  شوی  یا ډوب شوی  دی .

په پاکستان کی  دانفلیشن نرخ هیڅکله  دوه رقمی شکل نه وه نیولی اما اوس په دی تازه وختونو کی په ډیر بی څاری بنی سره  دانفلیشن نرخ لوړ شوی دی ،  چی  د  هغی سره سم دټولو مصرفی شیا نو اوبیا په ځا نګړی بنی سره دخوراکی موادو نرخ او قیمت  لکه

دراکټ په بنه آسمان ته لوړه شوی دي مثلاً د انفلیشن واقعی نرخ د (۲۰۰۹) په لمړی ربع کی تر (٪۱۸،۸۵) لوړ شو، دتولیداتو نرخ دیو شمیر موجهه دلایلو په نظر کی نیولو سره زیات شو لکه د تیلو دبیه لوړیدل په ټول نړی کی ، اود بلی خوا څخه دپاکستان په دننه کی دکسب وکار نا مساعد حالات دوه مهم فکتورونه وه چی دانفلیشن دنرخ دلوړ والی سبب شو . چی دغه ټول پیښی دپاکستان پر خلکو اوبیا په ځانګړی بنه پر بی وزلو ډیر دروند تاثیروغورځول او د پاکستان خلک دبد مرغی سره مخامخ شول .

د پاکستان شمالی برخی اوعلاقی کوم چی ډیر ښه طبعی منظری ، ابشارونه ، پراخی او زرغون اونی ، بوټی او باغونه لری هرکا ل ګڼ شمیر توریستان یا سیلانیا ن دغه برخو ته دمیلی ، هوا خوری اود تفریح د پاره راتلل اود پاکستان دتوریزم اداره هرکال زیا تی خارجی اسعارتر لاسه کول کوم چی د پاکستان اقتصادی بنیی ته ستر کمک رسول اودهمدی تورستانو په راتګ سره په همدغو ځایونو کی محلی خلکو دپاره شغل او کار پیدا کیدل چی داپخبله دهغو اقتصاد ته یو ستر کمک وه او دهمدی سیلا نیا نو په راتګ سره دپاکستان هویت هغو ته هم معلومیدل اودبلی خوا څخه دپاکستانیانوملګرتیا دسیلانیانو سره تامین کیدل اویا ددواړو خواو په مینځ کی فرهنګی علایق وده کول . اما له بده مرغه له هغه ځایه څخه چی باکستان اوس د تروریزم ځا له ګرځید لی دی او دهیواد په یوه څنډه کی امنیت او مصونیت نشته نو په همدی بنیاد سره اوس سیلانیان پاکستان ته نه راځی اونه غواړی چی خپل ژوړند په خطر کی واچوی.

یوه بل مطلب چی دلته باید وربا‌ندی مکث وشی هغه دتروریزم ددهشت اوددار څخه دپاکستانیانو داخلی بیځایه کیدل اومهاجرتونه دی چی له هرپلوه دپاکستان پر اقتصاد باندی ناوړه اغیزی اچوی اما متا سفا نه چی د پاکستان لوړ پوړی چارواکی او مذهبی سیاسی اسلامی داړه ماران کوم چی په چل او تذویر سره د ا مریکی او د عربو پیسی تر لاسه کوی پخپل چرچو او عیا شی سره مصروف او د پاکستان خلک یی هیره کړی دی .

C - د پاکستان سیا سیی بحران : دپاکستان اوسنی سیا سیی بحران پسی بحران دغه هیواد یو ځای ته رسولی ترڅو که چیری د دغه روان بحران د پرمختګ مخه ونه نیول شي ،هیواد دبی ثباطی کندی ته بیا یی ، د جرمنی د معتبر ورځپا ڼی «شپیګل »د سیاسی مبصرینو په قول سره نن په پاکستان کی دری رسمی نهادونه لکه نظامی (آی اس آی) دولتی اوقضایی کوم چی هریو یودبله سره اخلافات او تضاد لری ، حالات داسی خړپړ کړی چی روان سیاسیی بحران نور هم دبحران لمن په دی هیواد کی پراخوی .

که دپاکستان سیا سیی اوضاع په واقیعبیا نا نه اوریالیستکی بنی سره وڅیړل شی دا به په ګوته شی چی دهیواد په بحران اویا د پاکستان د دولت په کمزورتیا اوبی ثباطی کی دغه لاند نی دری سره په اړیکی فکتورونه ډیر عمده او رغنده رول اونقش لری :

۱- اسلام پا لنی (Islamism) . ۲- قبا یلی توب (tribalism). ۳- سکولاریزم ته ورته

دلته باید په ډاګه شی او هغه داچی د دغه دری ډول نظریو (quasi- secularism) : اویا عقیدتی جنبشونه غوښتنی سره ډیر متفاوت اوډیرسره لیری بریښی چی سره جوړ جاړی وکړی یا په بل عبارت ددغو دری ډول جنبشونو پیروان هیڅکله سره نه غواړی چی پخلا شی اوهر یو ددی دری ډول جنبشونوپیروان د خپل نظریاتو د پلی کولو دپاره پر دولت باندی فشار اچوی چی دهغوی غوښتنی اویا خواستی پلی شی اویا داچی دخپل خواستی د پلی کولود پاره غواړی چی د پاکستان دولت په همدی موجوده کمزوری او بی ثباطی ډوله حکومتی سیستم کی پاتی شی ترڅوچی هغوی وشی کړلی چي خپل هدفونه ترلاسه کړی نوپه دی وجهه سره باید په پاکستان کی هیڅوخت دیو لاس( هوموجینیس) دولت د تاسیس اود رامینځته کید و انتظار ونه ایستل شی؟ د دی پورتنی یادونو د ثبوت دپاره دجنرال مشرف هغه وینا ته پام اړوو کوم چی هغه داپریل میاشت کال «۲۰۰۷» کی دپاکستان د قوماندانانو د شپیتمی (۶۰) کالیزی د راغونډ یو په محفل کی ترسره کړ اوداسی یی وویل : نن پاکستان له هر پلوه د داخلی افراطیګرایی نظریو ، ( Domestic Extrmism) تاریک اندیشی (obscurantism) او مذهبی تعصب ( religious bigotory) کی ترپزی پوری ډوب دی.نودهمدغه حالاتو په نظرکی نیولوسره دامریکی د متحده ایالاتو لوړپوړی مقامات دخپل تحلیل په وجهه اوپه دی باور سره چي پاکستان د تروریزم په روزنه کی لاس لری اویا دتروریزم په ځاله بدل شوی دی ، (۱) دپاکستان دولت دی ته اړ کړی چی دنړیوال تروریزم په جګړه کی باید دجنګ په لمړی کرښه کی وجنګیږی .(۲) دپاکستان په د ننه کی خلکو دخپل مختلفو اورنګارنګ نظریاتو اوباورونو په لرلوسره کوم چی مخکی مو یاده کړل اوسنی دولت نه داچی ډیر کمزوره کړل شوی بلکه پاکستان یی په یوه غیرمسبوط او متزلزل هیواد بدل کړی .(۳)-د پاکستا ن ددولت نا څرګند سیاسیی موقف د پاکستان دهستوی زراد خانی په اړه په منطقه کی دګاونډیو هیوادونو دتشویش زمینه را مینځته کړی اوهغه داچی دسیمی هیوادونه هم پخپل بهرنی پالیسی کی له محبوریته د پاکستان په اړه یولړله سره کتنی کړی دی لکه(۴) بنګله دیش او (۵) نیپال یا (۶) دچین دولت چی خپل نظامی بودجه او مالی لګښتونه زیاته کړی او (۷) یا داچی دهند دولت خپل ټول هڅی او زیار پکار اچولی چی دخپل اقتصادی پیاوړتیا د پاره هراړخیز اقدامات تر سره کړی ترڅو چی په سیمه کی په یو قوی او نیرومند ځواک بدل شی . نو دهمدی پورتنیو دلایلو په یادونو سره یوځل بیا دی موضوع ته راګرځو چی دپاکستان په دننه کی تروریستی فعالیتونه دسریلانکا اود افغانستان دولت دپاره یو لړ تشویشونه را پیدا کړی اوهغه داچی دپاکستان څخه روزل شوی تروریستان دغه هیوادونو ته راالیږل کیږی چی د هغه هیوادونو امنیت ته تاوان ورسوی چی دا پخپله دهغه هیوادونو مخالفت د پاکستان د دی غلط سیاست په وړاندی راپاروی اویا پاکستان دخپل ناسم سیاست له امله په منطقه کی دیوبحران زیږونکی دولت په نامه سره

هویت ترلاسه کړی اوددی امکان ورل کیږی چی په منطقه  پا کستان کی  کاملاً  تجرید شی .
مونږه مخکی یاد کړ چی  په پاکستان کی  اسلام گرایی ، قبایلی توب ، قومی ناسیونالیزم ، اوسیکولاریزم ته ورته نظریات( د موکراسی غوښتونکی  روشنفکران ،  تحصیل یافته گان ، حقوق دانان ... ) او بارونه  دپاکستان ددولت دکمزورتیا اصلی عوامل او فکتورنه دی .اودهمدی بارونو په نظر کی نیولو سره ډیر غیر ممکن ښکاری چی په پاکستان  کی یو متفق النظر یا یولاس (هوموجینیس) دولت  جوړ  کړل شی ، اوداځکه  چی   پورتنی دری ډول جنبشونه هر یو دخپل با ورنو د تحقق د پاره هلی ځای کوی  بی  له دی   چی دپاکستان دعامه خلکو  گټی ته پام واړوی ،(۱) اسلام گرایان هڅه  کوی  چی  د پاکستان دولت با ید  تل بی ثبا طه پا تی شی تر څو چی دهغو  پروگرامونه  مخکی  لاړ شی او د پا کستان خلک له یوسره په اسلام گرایی اوافراطیت سره سمبا ل کړی اویا  په  اصطلاح سره اسلامی خلافت رامینځته کړی . یا داچی (۲) قومی ناسیونالیزم  غواړیی  چی دخپل پروگرامونو دتحقق دپاره  یوه نسبی آزادی تر لاسه کړی اویا داچی په نهایت کی غواړی له هره جهته مستقل اووسی ! اوپه  همدی  شا ن سره (۳)  سکولاریستا ن  غواړی  چی پاکستان کی دموکراسی اود د موکراسی اصول پلی شی  اود پاکستان دولت  په سیمه  کی تجرید نشی نودهمدی دلایلو په نظر کی نیولو سره دی چی په پاکستان کی د یولاس دولت دمینځته راتلو امکانات محدود او حتی ناممکن بریښی .دلته باید په ډاګه شی چی دپاکستان دوه گونی یا دری گونی دولتمردان اصلاً دپاکستان دخلکو دهوسا ژوند په اند یښنه کی نه دی ، نو دهمدی بی پروایی له کبله دی چی په نوموړی هیواد کی ورځ په ورځ دپانگوالو او بی وزلو خلکو ترمینځ واټن لا پسی پراخیږی او خلک کم بغله کیږی .
مشروعیت اودضعیف دولت دخطر سند روم : دلته باید مخکی له هر څه نه د ناکام یا دما تی خوړلی (failed) اود کمزوری یاکم بغل (weak)  دولتونو تر مینځ  فرق وشی :  په ماتی خوړلی یا ناکام دولت کی دولتی مقامات بیاهم یوڅه دوړو پزی  اتوریتی لری   اما په ضعیف او کم بغل  دولت کی  دولتی  زمامداران   ددی صلاحیت لری  چی دخلکو دپاره یو څه  ضروری شیان چمتو کړی یا د خد مت مصد ر وگرځی ،  اما نا کام دولت ددی وسه نه لری چی دخپل خلکومصونیت اوامنیت دداخلی اودیا دخارجی تهدیداتو په وړاندی تامین کړی . دلته  همدارنگه د ناکام دولت  اصطلاح د کم بغل  یا د کمزوری مرکزی دولت مفهوم هم  ځا نته نیولی شی چی خپل اتباعو ته ځنی اساسی  خد ما ت لکه تعلیم وتربیه او روغتیایی مراقبتونه  ترسره کړی ، بی ویلو  دی پاتی نشی   چی ناکام او ماتی خوړلی دولتونه دسری جگړی په پای او  نیولیبرالزم په بریالیتوب او  دبوش داداری ددکترین پر  اساس یوڅه مشروعیت ترلاسه کړ  اوهغه داچی دغه دولتونه کولای شی چی دخپل خلکو  دلاربنونی پر اساس سیا سیی اوبنیادی  اوخد ما تی   مشروعیت  او حقونه

اویا دندی ولری .دپورتني یادونو په دوام سره ویلی شو چی دپاکستان دولت یو نا کام اوماتی خوړلی دولت دی اودبلی خوا څخه دلته هیڅ دشک او شبهیه ځای نشته اوهغه داچی دپاکستان دولت سره ددی چي نه یواځی یو نا کام دولت دی بلکه دیوی (ضعیف دولت » په درشل کی هم قرار لری ، اسلام آباد دپاکستان په دیرو پراخو برخو اودهغو برخوله جملی څخه پروزیرستان کوم چی دپاکستان په شما ل غرب یعنی د صوبی سرحد په علاقه کی پروت دی پرهغه منطقه با ندي هیڅ د کنترول لاس نه لری چی ددی مدعا ثبوت همغه د پاکستان د سولی د تعهد ا تو د پروتوکل لاس لیک کول د (۲۰۰۶-۲۰۰۵) پوری دوزیر دقبا یلو سره دی . اوهغه داچی که دپاکستان مسولو مقاماتو وتوانید چی دوزیرو دقوم سره دسولی دتړون دلاس لیک کولو له کبله خیل خواستی تر لاسه کړ اما د بلی خوا څخه د پاکستان دولت ونه توانید چی دهغو یا د تروریستانو دفعالیتونو مخه په منطقه کی ونیسی حتی که چیری په نوموړی منطقه کی حالات لاپسی ډیر تیرنګلی اوخطری شی لکه دچا په خبرو چی سوله د پا کستان ددولت له طرفه به تامین نشی بلکه دپیتر وارن( Peter Waren= دبروکنګر د انستیوت دیویشتمی پیړی ددفاعی طرحی دایرکتور ) په خبرو سره که سوله راځی نو هغه به هم دقبا یلو له خوا ممکن تامین شی .

دپروتوکول دلاس لیک کولو څخه وروسته افراطیانو په ډیر بیړه سره هغه سیمی کوم چی دپاکستان دولت له هغو منطقو څخه بی له دی چی خپل پروګرامونه پلی کړی (اویا داچی اصلاً کوم اصلاحی پروګرامونه نه درلود) ترشا شوی وه بیرته ونیول اوخپل پیغا مونه خلکو ته داسی وړاندی کړ چی مونږ د لته حضور لرو ، ګرچه په نورمال بنی سره شا ید چي خلکو د هغو سره سمپتی یا علاقه نه لرل اما دزمان په تیریدو سره شاید چی دهغو خبرو ته غوږکیږدی اوهغه داچی دافراطیانو پیغام د هغو سیمو خلکو ته دهغو د بچیا نو وړیا تعلیم وتربیه او دښونځیو له سره جوړول او منظم کول وه کوم چی دپاکستان ددولت په پرتله چیری چی ددی منطقو ښونځی او مدرسو ته پام اړول خو چنده به زیات پام واوړول شی . اوپه همدی وجهه سره افراطی ډلی ټپلی په دی هڅه کی شو چی د سیمی د تعلیم اود تربیی د مدیرانو علاقه ځانته را جلب کړی اوخپل د نفوذ ریښی په خلکو کی لا پراخه اوټینګ کړی. دلته یوه مطلب چی باید په پام کی ونیول شی هغه دادی چی په دی سیمو کی د ښونځیو د نشتوالی له امله داسلامګرایی د نفوذ دلا ټینګید و دپاره داسی زمینه برابره کړ چی د سیمی خلکو په دی راضی شو چی خپل بچیان داسلامی زده کړی ډ پاره اسلامی شخصی ښونځیو ته ولیږی چی یو له دی اسلامی ښونځیو څخه ددارالعلوم دشبکی ښونځی دی کوم چی دلته زیاتر افغانی تنکی ځوانان برسیره پر دی چی اسلامی زده کړی تر سره کول هغو ته په افغانستان کی دشوروی اتحاد پرضد جنګی مهارتونه او سړی وژنی ورزده کول کوم چی په دی اسلامی ښونځیو کی هرکال تر (۱۵۰۰) افغانی شاګردان دشمولیت درخواست او عریضی ورکول ، نو د دی پورتنی یادونو څخه دا سی پا یلی تر لاسه کو چی

د پاکستان اکثر برخی اوس داسلامگرایانو د پروگرامونو دتحقق دپاره شرایط او حالات له هروخت نه ډیر مساعد او ډیر ښه دی .

مونږ تر دغه ځایه پوری په دی مقا له کی دپاکستان په اړه زیات مطا لب وڅیړل ، اما هغه څه چی با ید پریو ځونورو اړینو موضوعا تو باندی لږ څه تم شوهغه په لاندی توگه سره تر څیړنو لاندی نیسو:

یو ـ اسلامگرایان :

دوام لری